Calgary

# هغه څه چې د کلګري اوسېدونکو ته ډېر ارزښت لري

**کلګري د کاناډا تر ټولو په چټکۍ وده کوونکی یو لوی ښار دی او د نړۍ ده هغه ښارونو څخه دی چې د اوسېدو لپار ډېر وړ ګڼل کېږي. مونږ د ۲۰۲۶ په کال کې، د ښاروالی په هغه خدمتونو کې ډېره پانګونه وکړه چې تاسو ته ډېر ارزښت لري، د بېلګې په توګه:**



## بنسټیزې پروژې

د شمال ختیځ اتلیټیک کمپلیکس او د وای-ایم-سي-اې تاریخي ودانۍ په کډون د کلګري په سړکونو، پارکونو او تاسیساتو کې پانګونه.

## عامه ټرانسپورټ



د ټیټ عاید لرونکو لپاره د عامه ټرانسپورټ د پاس پروګرام د تمویلولو سره د عامه ټرانسپورټ د شبکې پراخول او د بیو ارزانه ساتل.



## کور جوړونه

د کلګري د کورونو د عرضې د زیاتوالو لپاره د ۱۸۰۰۰ نورو کورونو برابرول.

## عامه خوندیتوب



په ښار او عامه ټرانسپورټ کې د عامه خوندیتوب سموالی. د هغو کسانو د ملاتړ لپاره چې د بېکورۍ، رواني روغتیا او روږدي کېدو ستونزو سره مخ دي، د کاري انډیوالانو سره په ګډه کار کول.

---

د دې او نورو پانګونو په اړه نور معلومات په **calgary.ca/ourfinances** کې ترلاسه کړئ.

مهم معلومات په لاندې ژبو کې هم شتون لري:

پښتو | 简体中文 | ਪੰਜਾਬੀ | Español | العربية

## *ستاسو د استوګنې د مالیې پیسې چیرې کارول کیږي



**۵۸ سلنه** د کلګري د ښاروالی خدمتونه تمویلوي

**۴۲ سلنه** د دالبرټا د حکومت کې کارول کیږي

*نږدې اټکل

## په ۲۰۲۶ کال کې د یوې عادي کورنۍ کور لپاره زیاتوالی (چې **۷۰۶۰۰۰ ډالره** ارزول شوی یې):

**+ ۳۳۸ ډالره**

### ایالتي بودیجه

موږ د ایالت په استازیتوب د ملکیت مالیه راټولوو. **د ایالتي ملکیت مالیه په ۲۰۲۶ کال کې ۲۱ سلنه زیاته شوه**، چې د ۲۰۲۵ کال د ۱۵.۶ سلنه زیاتوالی څخه زیاته ده.

نور معلومات په alberta.ca/budget کې ترلاسه کړئ.

**+ ۴۹ ډالره**

### د ښاروالۍ د بودیجې او ملکیت ارزونه

**په ۲۰۲۶ کال کې د ښاروالی د ملکیت مالیه ۱.۸ سلنه زیاته شوه، چې د ۲۰۲۵ کال د ۵.۶ سلنه زیاتوالی په پرتله کموالی ښیي.**

د ملکیت مالیې زیاتوالی د ښاروالی د خدمتو لکه پولیس، اور وژنې او عامه ټرانسپورت د دوام لپاره مرسته کوي.

نور معلومات په calgary.ca/budget کې ترلاسه کړئ.

---

### ټول زیاتوالی **۳۸۷ ډالره**



## ستاسو د ملکیت مالیې بدلون ستاسو د ملکیت ارزښت پورې اړه لري

د **calgary.ca/taxcalculator** څخه لیدنه وکړئ او د خپل ملکیت د ارزونې ارزښت (چې ستاسو د مالیې بل په سر کې موندل کیږي) ولیکئ ترڅو د خپل ملکیت پورې اړوند مالیه کې بدلون ترلاسه کړئ.

26-0054788 - CRV-45596